مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۱٤مه | د ۲۰۱۹ د نومبر پنځمه | ٤٥۷ ګڼه

# پر کمېسیون نیوکې؛

## د ټاکنو کمېسیون له ولس سره ناسم معلومات شریکوي



۳

## ځېره

۴ مخ

### دوست محمد کامل



دوست محمد کامل د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال، شاعر او تر ټولو مهمه دا چې یو وتلی محقق و. هغه په داسې وخت کې په پښتو ژبه کې د څېړنو او تحقیقاتو ور پرانیست، چې په دې ډګر کې هېڅ راز د پام وړ کار نه و شوی.

### سږ کال په لوګر کې ٥٤ زره متریک ټنه پیاز را ټول شوي دي



د لوګر د کرنې ریاست چارواکي وایي چې سږ کال په دغه ولایت کې د پیازو حاصل ډېر شوی او په بازار کې هم په ښه بیه پلورل کېږي. د لوګر د کرنې رییس عبدالله تسل پژواک ته ویلي، چې سږ کال د دغه ولایت په څه باندې ۸٦ زره جریبه ځمکه کې پیاز کرل شوي وو، چې نږدې ٥٤ زره متریک ټنه حاصلات ترې تر لاسه شوي دي.

هغه وایي: «سږ کال پیازو ښه حاصل ورکړی او په بازار کې هم په ښه بیه خرڅېږي، چې دهقانان ورته خوښ دي».

د تسل په خبره، دا مهال په لوګر کې یو من پیاز له ۱۲۰ تر ۱٥۰ افغانیو پورې پلورل کېږي.

تسل زیاتوي: «سږ کال موږ هم د پیازو د کر په برخه کې کروندګرو ته اصلاح شوي تخمونه ورکړي او تر څنګ یې د ناروغیو د مخنیوي په برخه کې مو ورته سلا مشورې هم ورکړې دي».

له ملکیانو سره جګړه
۲ مخ

د ولسمشریزو ټاکنو پایلې؛ په افغانستان کې سوله او امنیت
۲ مخ

ارامکو؛ د نړۍ د تېلو تر ټولو ستر شرکت ولې خپله ونډه پلوري؟
۳ مخ

## د کابل-کمپنۍ پله د جوړېدو ټکنیو چارو خلک او موټر چلوونکي له ستونزو سره مخ کړي دي

د کابل-کمپنۍ عمومي پُل، چې د کندهار په ګډون د افغانستان ۱۲ جنوب- لوېدیځ ولایتونه له مرکز کابل سره نښلوي، تېر کال د بارانونو له امله ونړېد، خو تر اوسه یې د بېرته جوړېدو چارې نه دي بشپړې شوې چې له دې کبله خلک له ډېرو ستونزو سره مخ دي.

د دغه پله تر نړېدو وروسته، حکومت په سیمه کې موقتي پل جوړ کړی، چې په دې موقتي پله د موټرو ګڼه ګوڼه زیاته ده او په ساعتونو خلک په انتظار پاتې کېږي.

د دغې سیمې اوسېدونکي او په دې لاره موټر چلوونکي وایي، چې د دې پله د نړېدو له امله له ډېرو ستونزو سره مخ دي او له حکومت څخه په جدي توګه غوښتنه کوي چې د خلکو ستونزو ته رسېدنه وکړي او پر دغه پله د بیارغونې چارې چټکې کړي.

په ورته وخت کې د ولسي جرګې غړي نیوکه کوي، چې د کابل کمپنۍ پُل چې تېر کال د ژمي په موسم کې د سېلابونو له امله ونړېد، د حکومتي چارواکو د بې غورۍ له امله د بل ژمي په را رسېدو سره لا هم نه دی رغول شوی.

وکیلان له اړوندو ارګانونو غوښتنه کوي، چې د دغه پله د بیارغونې چار ګړندۍ کړي.

خو د ټرانسپورټ وزارت ویلي، د دغه پُل د رغېدو چارې په چټکۍ سره روانې دي او ژمنه کوي چې د اوو میاشتو په موده کې به یې د رغېدو چارې بشپړې شي.

## چمتو یو چې د افغان سولې په پرمختګ کې اړینې همکارۍ وکړو



۵ مخ

## وزارت خارجه: احضار سفیر افغانستان در اسلام آباد توسط (آی اس آی) خلاف عرف دیپلوماتیک است



وزارت امور خارجه افغانستان، مراتب شدید اعتراض و نگرانی خویش را در پیوند به احضار سفیر افغانستان در اسلام آباد توسط سازمان اطلاعاتی نظامی پاکستان (آی اس آی) و رفتار نادرست نظامیان این سازمان، ابراز داشته و این عمل را خلاف موازین و عرف دیپلوماتیک می پندارد.

این مطلب در خبرنامه ای که از سوی این وزارت، به رسانه ها مواصلت ورزیده، بیان شده است.

منبع افزوده است که جمهوری اسلامی افغانستان، یک بار دیگر از حکومت پاکستان میخواهد که روابط دیپلوماتیک خویش را با این کشور، در روشنایی و مطابقت با کنوانسیون های بین المللی و عرف پذیرفته شدهٔ دیپلوماتیک وفق دهد.

منبع همچنان در پیوند به ادعای نگرانی های امنیتی سفارت جمهوری اسلامی پاکستان در کابل که در اعلامیه وزارت خارجه آن کشور آمده و منجر به مسدود شدن بخش قونسلی آن سفارت در کابل گردیده است، نگاشته است که این ادعا از جانب دولت افغانستان، به گونه جدی بررسی میشود و اطمینان میدهد که دولت افغانستان، متعهد به تأمین مصئونیت دیپلوماتان آن کشور و سایر سفارتخانه ها می باشد.

این در حالی است که از دو روز بدین‌سو سفارت پاکستان در کابل به گفته انان به دلیل ملحوظات امنیتی صدور ویزه های این کشور به افغانها تا مدت نامعلوم به تعویق افتاده است.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریـځ

### له ملکیانو سره جګړه

په دې وروستیو کې یو ځل بیا ملکیانو ته مرګ ژوبله او زیانونه زیات شوي دي. دواړه لوري په خپلو جګړو، عملیاتو، چاودنو او بمباریو کې ملکیانو ته مخامخ مرګ ژوبله اړوي. د وسله والو طالبانو له خوا په ځای پر ځای شوو بمونو کې بې ګناه ملکي وګړي، ښځې او ماشومان وژل کېږي. همدا په دوو ورځو کې په تخار او بغلان کې د دوی له خوا ځای پر ځای شوو بمونو تر شلو ډېرو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې. په تخار کې د ښوونځي شپږ ماشومان پر یو ماین وختل او ووژل شول، په بغلان کې بیا پر یو بل ماین ملکي وګړي ور برابر شوي چې اته تنه وژل شوي او شپږ نور ټپیان دي. له همدې سره پر یو وخت په حکومتي عملیاتو کې هم پراخه مرګ ژوبله اوړي. په دې وروستیو کې په حکومتي عملیاتو کې په قصدي او شعوري ډول د ملکي وګړو لسګونه کورونه نړول شوي چې تصویرونه یې په ټولنیزو رسنیو کې هم خپاره شوي دي.

له بده مرغه ښکېل لوري د دې پر ځای چې د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره عملي ګامونه واخلي، هڅه کوي چې دا وحشتونه او جنایتونه توجیه کړي. دواړه لوري لومړی ملکي مرګ ژوبله نه مني او چې کله یې ومني، بیا هم داسې ګام نه اخلي چې د تکرار مخه یې ونیول شي. له بده مرغه دوی د ملکي وګړو ژوند ته اهمیت نه ورکوي. ښکېل لوري باید پوه شي چې د ښځو، ماشومانو او نورو بې ګناه وګړو په وژلو سره د زور ښودل نه کوم اسلامي کار دی او نه هم کوم افغاني او انساني کار. د ښځو او ماشومانو وژل د کمزورو، ډارنو، بې اصولو او وحشي خلکو کار دی چې په هېڅ ډول نه توجیه کېږي. ځینې دا کار د تېروتنې یا بلې پلمې پر اساس توجیه کوي چې دا خپله جنایت او وحشت ته مشروعیت ورکول دي. په کلي او کور کې چې ښځې، ماشومان او نور بې ګناه وګړي پکې اوسېږي، بمباري او هوایي بریدونه تېروتنه نه ده، بلکې په قصدي ډول د ملکیانو وژنه ده. د یو یا څو طالبانو لپاره د ټول کور یا کلي بمبارول او نړول یوازې وحشت دی او بس. همداسې د خلکو د استوګنې او ګڼې ګوڼې په ډکه سیمه کې پر یوه نظامي یا بل هر هدف برید وحشت دی. په هر هدف برید دا وحشت نه شي توجیه کولی. دا خبره چې ګواکې خلک دې له دغو مرکزونو لرې وي، غیر عملي ده او یوازې وحشت ته توجیه پیدا کول دي. له بله اړخه په عامو لارو کې د بمونو اېښودل هم د ملکیانو ژوند ته د نه پاملرنې یوه ښکاره نښه ده چې په هېڅ ډول د زغم وړ نه ده.

د ملکي وګړو مرګ ژوبله زیاتیږي، خو له بده مرغه دواړه لوري د ملکیانو پر وړاندې ډېر بې توپیره چلند کوي او د ښځو، ماشومانو او نورو بې ګناه وګړو په وژلو سره غواړي خپلو سیاسي موخو ته ورسیږي. ښکېل لوري چې د ملکي وګړو د خوندیتوب کومې چیغې وهي، واقعیت دا دی چې دا تش شعارونه دي او دوی ته د ملکي وګړو ژوند هېڅ ارزښت نه لري.

# د ولسمشریزو ټاکنو پایلې؛ په افغانستان کې سوله او امنیت

لیکنه: احمدشاه راشد – د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز څېړونکی

ولسمشریزې ټاکنې د ۱۳۹۸ لمریز کال د تلې میاشتې په شپږمه نېټه د افغانستان په هغو ځایونو کې چې هلته یې د تر سره کېدو زمینه برابره وه، تر سره شوې. د یادولو وړ ده، چې یادې ټاکنې تر سختو امنیتي تدابیرو لاندې تر سره شوې او د ټاکنو په ورځ د هېواد په ځینو برخو کې جګړه، توغندیز بریدونه او بمي چاودنې هم وشوې. وسله والو طالبانو ګواښ کړی و، چې د رایو ورکولو بهیر مخه به نیسي او د امنیت د ټینګښت لپاره د رایو په مرکزونو کې نږدې ۷۲ زره پولیس او پوځیان ګومارل شوي وو.

دغه ټاکنې له دوه ځله ځنډېدو وروسته تر سره شوې، هغه هم په داسې حال کې تر سره شوې، چې د افغانستان د نږدې ۳۷ میلیونه نفوس له منځه شاوخوا نهو میلیونو کسانو د رایې ورکولو لپاره نوملیکنه کړې وه او له دې جملې څخه یوازې ۱.۹ میلیونو کسانو ګډون کړی و، چې د رایې پر شرایطو برابرو کسانو ۱۱ سلنه تشکیلوي.

ټاکل شوي وه چې د ټاکنو لومړنۍ پایلې د تلې/ میزان میاشتې په ۲۷مه اعلان شي، خو د ټاکنو په ورځ پراخه درغلي، په بایومټریک سیسټم کې ستونزې، د کمېسیون په دننه کې داخلي اختلافات او د ټاکنیزو ډلو ترمنځ شته ابهامونه هغه څه دي، چې د ټاکنو لومړنۍ پایلې یې تقریباً یوه میاشت وروسته کړلې.

**د تلې د شپږمې ټاکنو پروسې ته کتنه**

په پام کې وه چې د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې د روان ۱۳۹۸ لمریز کال د وري (حمل) په ۳۱مه تر سره شي، خو وروسته د چنګاښ (سرطان) ۲۹مې او بیا د تلې شپږمې ته وځنډېدې. یو علت یې هم د ټاکنو په کمېسیون کې اصلاحات وو. د کمزوري مدیریت او پراخو درغلیو له امله، د ۱۳۹۷ لمریز کال ولسي جرګې ټاکنې جنجالي شوې او د پایلو اعلان یې څو میاشتې وځنډېد.

وروسته د ولسمشر اشرف غني د تقنیني فرمان له مخې، د ټاکنیزو کمېسیونو کمېشنران له دندو لرې او پر ځای یې د ۱۳۹۷ لمریز کال په کب (حوت) میاشت کې نوي ۱۲ کمېشنران وټاکل شول، څو ولسمشریزې ټاکنې د دوی په مدیریت تر سره شي. د ټاکنو د نوي مهالوېش له مخې، ټاکنیز کمپاین د اسد په شپږمه پیل شو. د ولسمشرۍ د ۱۸ کاندیدانو له ډلې د محمد حنیف اتمر ټاکنیزه ډله په دغه ټیم کې د داخلي اختلاف له امله وپاشل شوه او څو ورځې وړاندې له ټاکنو د شاته کېدو اعلان یې وکړ، خو څلور نور نوماندان شیدا محمد ابدالي، زلمی رسول، ابراهیم الکوزی او نورالحق علومي د محمد اشرف غني په مشرۍ له دولت ساز ټیم سره یوځای شول. د میزان د شپږمې په ټاکنو کې ۱۳ کاندیدانو برخه درلودله، د دې ټاکنو لپاره له ۱۰۰ زرو ډېر کورني او نړیوال څارونکي ګومارل شوي وو. په دوی کې ۳۰ زره څارونکي د ښاغلي عبدالله او ۳۰ زره نور د ښاغلي غني وو. همدارنګه د مدني ټولنو استازو، د کمېسیونونو غړیو، د خپلواکو ادارو استازو، ملګري ملتونو، امریکا، برېټانیا، ایران، د سیمې او همسایه هېوادونو سفیرانو پر دغه بهیر څارنه درلوده.

**د لومړنیو پایلو د ځنډ عوامل**

د کمېسیون غړو د دغه ځنډ لامل تخنیکي ستونزې او په ځینو برخو کې د خپلو فعالیتونو کمزوري وبلله او دغه راز یې وویل چې انټرنېټي ستونزې او له نامعلوم لوري پر مرکزي زېرمې د سایبري بریدونو ګواښونه هم د ځنډ لاملونه وو. په لومړیو کې ټاکل شوې وه چې د تلې د شپږمې ټاکنو پایلې د همدې میاشتې په ۲۷مه اعلان شوې وای، خو کمېسیون په خپل وخت د پایلو پر اعلان ونه توانېد او اوس یې د لړم ۲۳مه د دغو پایلو اعلان ته ټاکلې ده. د ټاکنو د لومړنیو پایلو تر اعلانه به په ډیجیټلي زېرمه کې ځای پر ځای شوي معلومات چاڼېږي او په ولایتونو کې به د مرکزونو رایې هم له سره شمېرل او له ډیجیټلي هغو سره به پرتله کېږي.

همدارنګه درملوګ تخنیکي شرکت کمېسیون ته د ټولو رایو په اړه مالومات استولي دي، خو کمېسیون د ور رسېدلو مالوماتو په تړاو جزییات نه ورکوي او وایي چې په دې اړه دوی خپله هم پوښتنې لري او دا پوښتنې یې لا نه دي ځواب شوې. د درملوګ شرکت د رپوټ پر بنسټ، د پاکو او ناپاکو او همدارنګه هغه رایې چې د قانوني سن نه پوره کوونکو له خوا کارول شوې، په اړه یې معلومات د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته استولي دي، خو د کمېسیون په دننه کې د کمېشنرانو تر منځ د هغو معلوماتو په اړه چې درملوګ شرکت ورکړي دي، د نظر اختلاف موجود دی. داسې ویل کیږي چې درملوګ شرکت ۸٦۲۲٦ زره رایې باطلې اعلان کړې دي، خو په کمېسیون کې ځینې کمېشنران ټینګار کوي، چې د باطلو رایو شمېر له ۱۳۹۰۰۰ څخه زیات دی.

د محمد اشرف غني په مشرۍ د دولت ساز ټاکنیز ټیم څارونکي داوود سلطانزوی د کمېسیون له خوا په ځنډ د لومړنیو پایلو اعلان په اړه اندېښنه ښودلې او همدارنګه د درملوګ شرکت له لوري د ۸٦۲۲٦ رایو د باطل کېدو ټینګار کوي، چې له دې زیاتې رایې نه دي باطلې شوې. نوموړی زیاتوي چې هر څومره چې د ټاکنو دا بهیر غځېږي، په هماغې اندازې درغلیو او توطیو ته لاره هوارېږي. د عبدالله عبدالله د ټاکنیز ټیم ویاند فریدون خوځون بیا وایي، دا ځنډ ورته هغه مهال د منلو دی چې یوازې د روڼتیا په موخه وي. نوموړی زیاتوي، د درملوګ شرکت له خوا ۸٦۲۲٦ زره نه؛ بلکې له ۱۳۹۰۰۰ ډېرې رایې باطلې اعلان شوې دي. دا چې دواړه ټاکنیز ټیمونه تقریباً د یو لک رایو پر سره چې یوه ټاکنیزه ډله وایي چې باطلې دي او بله وایي چې نه دي باطلې، دا هغه رایې دي چې که چېرې باطلې نه وي، نو ۵۰ +۱ رایې دولت ساز ټیم پوره کړې دي او د ۱۳۹۸ لمریز کال د ولسمشریزو ټاکنو وړونکی دی. که چېرې دا یو لک رایې باطلې وي، نو په قوي احتمال سره ټاکنې دویم دور ته ځي، چې په دویم دور کې به د دولت ساز او همپالنې ټیم په خپل منځ کې سیالي کوي.

**دویم پړاو او د ګډ حکومت د تشکیل اوازې**

لومړی خو دا چې له ټاکنو مخکې کومې اندېښنې چې د درغلیو په تړاو موجودې وې، سمې ثابتې شوې او اصلاً ترڅو چې له هېواده د جګړې لمن نه وي ټوله شوې، د رڼو ټاکنو د تر سره کېدو تمه نه شي کېدای. دا چې ټاکنې له ټولو ستونزو او پراخو درغلیو سره سره تر سره او تر اوسه پورې لومړنۍ پایلې هم نه دي اعلان شوې، داسې ښکاري چې ممکن ټاکنې دویم پړاو ته ولاړې شي او د ټاکنو د لومړنیو پایلو په اعلان کې له ځنډ سره دویم پړاو ته د ټاکنو د تګ احتمال هم زیات شوی دی. دویم پړاو ته له تګ مخکې د ګډ حکومت د جوړېدو ګنګوسې هم خپرې شوې؛ خو د ځینو نوماندانو له دریځ څخه داسې ښکاري چې د ګډ حکومت په اړه به موافقه ونه کړي او د دویم پړاو ټاکنو غوښتنه به وکړي؛ خو که د افغانستان د نافذه قوانینو خلاف پر ګډ حکومت هم هوکړه کېږي، نو دا به یو ډېر ناسم ګام وي او راتلونکی حکومت به بیا هم د تېر حکومت په څېر د یوه سهامي شرکت په بڼه وي او هغه نوماند ته به چې له خپلې نوماندۍ تېر شوی وي، په حکومت کې معلومه ونډه ورکول کېږي.

که چېرې ټاکنې دویم پړاو ته ځي، نو د دویم پړاو تر سره کېدل به څه وخت وي؟ که چېرې د لومړي پړاو د تر سره کېدو وضعیت ته وګورو، نو د دویم پړاو تر سره کېدل د هوا سړېدل، د مالي سرچینو نشتون او امنیتي ستونزې هغه عوامل دي چې د ټاکنو دویم پړاو به په خپل وخت سره تر سره نه شي. په ټاکنو کې د خلکو کم ګډون، د پایلو ځنډ او دویم پړاو ته یې د تګ امکان، ممکن تر شا یې ډېر عوامل وي؛ خو له ملت سره په شویو وعدو نه وفا، په ټاکنو کې پراخه درغلي، د کمېسیونونو ضعیف مدیریت او د بهرنیانو لاس‌وهنې هغه څه دي چې دا وضعیت یې حاکم کړی دی.

**ټولو طرفونو ته د منلو وړ پایلې**

که څه هم داسې انګېرل کېږي، چې په ټاکنو کې دواړه د ملي یووالي حکومت شریکان مخکې دي او له نورو یې ډېرې رایې تر لاسه کړې، خو دا چې په دې دواړو کې یو طرف برې خپله وي بل طرف به د ټاکنو پایله ومني که نه؟ هغه وضعیت دی چې شاید ځینې ستونزې جوړې شي، خو دا چې د افغانستان په دې حاکم وضعیت کې ټاکنې تر سره شوې، په ملي او نړیواله کچه وستایل شوې او په خپله د افغانانو په مدیریت تر سره شوې، د نورو ټاکنو په پرتله بریالی وبلل شوې. داسې ښکاري چې په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې فعال حضور ته په کتو سره به، د واک په انتقال کې تر ډېره جدي ستونزې رامنځته نه شي. که چېرې ټاکنې په لومړي پړاو کې یو بریالی ولري او سیال به یې له واک څخه د محرومېدو له امله، د افغانستان غونډې ټولنه کې تر خپله وسه اعتراض وکړي، خو دا چې د راتلونکي حکومت دوام وګواښي، داسې څه ناممکن برېښي. له بلې خوا په ټاکنو کې درغلۍ هم په ټوله نړۍ کې معمول دي، چې له همدې امله په افغانستان کې هم د ټاکنیزو شکایتونو د اورېدو کمېسیون فعالیت کوي او کله چې کوم نوماند د همدغو کمېسیونونو تر اداري لاندې ټاکنو کې ګډون کړی وي او بیا له ټاکنو وروسته د همدغو کمېسیونونو له خوا تر سره شوې ټاکنې نه مني، ښایي اعتراض به یې تر ډېره بې اغېزې وي. په ټاکنو کې درغلۍ، چې په ټوله نړۍ کې یې بېلګې شته دي، باید د دې لامل نه شي چې له واک څخه د محرومېدو پر مهال د ټولو افغانانو رایې او قربانۍ بې ځایه ولاړې شي. د ټاکنیزو شکایتونو د اورېدو د کمطسیون له خوا باید هر شکایت په شفاف ډول وڅېړل شي او ټول نوماندان یې پرېکړې ته درناوی وکړي؛ ځکه له دې پرته به واک ته د رسېدو لپاره نورې لارې ښایي په اوسنیو شرایطو کې د پام وړ اغېز ونه لري.

**پایله**

د امریکا او طالبانو تر منځ له تېرو دوو میاشتو راهیسې رسمي خبرې بندې شوې دي، خو کله چې ټرمپ له طالبانو سره په دې بهانه خبرې بندې کړې، چې د طالبانو په یوه برید کې د دوی سرتېرو ته مرګ‌ژوبله واوښتله، خو له لږ ځنډ وروسته د طالبانو د قطر استازو پاکستان ته سفر وکړ او امریکا هم خپل استازی چې د افغان سولې لپاره یې ټاکلی و، د لیدنې لپاره پاکستان ته واستولو چې له دې لیدنې وروسته د امریکا له لوري د افغان کشالې د حل لپاره ټاکل شوي استازي زلمي خلیلزاد خپل سفر له اروپا پیل کړ. په اروپا کې یې د اروپایي ټولنې له مشر سره پر افغان سوله خبرې وکړې. له هغه وروسته مسکو ته لاړ، په مسکو کې یې د افغان سولې په اړه په جوړه شوې څلور اړخیزه ناسته کې ګډون وکړ، چې په دې څلور اړخیزه ناسته کې د افغان کشالې له ټولو دخیلو لوریو غوښتنه وشوه، چې په افغانستان کې تل پاتې سولې ته د رسېدو په پار اوربند وکړي او بین الافغاني خبرو ته د زمینه سازۍ په موخه دې دواړه لوري د ښه نیت له مخې بندیان خوشې کړي. همدارنګه د چین په نوښت د جوړېدونکې بین الافغاني غونډې هرکلی یې هم وکړ؛ خو په چین کې جوړېدونکې بین الافغاني غونډه د افغان حکومت په غوښتنه وځنډول شوه. علت یې هم د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو نامعلوموالی په ګوته شوی دی. همدارنګه خلیلزاد د مسکو له څلور اړخیزې ناستې وروسته کابل ته راغی، له حکومتي چارواکو او سیاسي شخصیتونو سره یې لیده کاته وکړل او له هغه وروسته پاکستان ته ولاړ، هلته یې هم له عمران خان او نورو چارواکو سره ولیدل، دا چې یو ځل بیا د افغان سولې په اړه دا خوځښتونه پیل شوي دي، په نېک پال نیسو او د افغانانو هیلې یو ځل بیا ورسره راټوکېدلې دي. هیله ده چې دا ځل د خبرو پیل به مثبتې پایلې هم ولري او دا چې ټاکنې په هر ډول تر سره شوې، اوس اړتیا دا ده څو ژر تر ژره پایلې اعلان او د پایلو په نتیجه کې بری لوری معلوم شي او د پنځو کلونو لپاره د حکومت واګې په خپل لاس کې واخلي. په دې سره به د افغان حکومت دریځ هم د سولې په اړه غښتلی شي او په دې سره به وکولای شو، چې په نېږدې راتلونکي وخت کې په افغانستان کې د یوه نسبي امن راتلو په پار دخیل اړخونه یوې پایلې ته سره ورسیږي.

# ارامکو؛ د نړۍ د تېلو تر ټولو ستر شرکت ولې خپله ونډه پلوري؟

لیکنه: بي بي سي- پښتو



د سعودي د تېلو ملي شرکت ارامکو وايي، پلان لري چې خپله ونډه د رياض ونډو بازار کې وپلوري او که دا کار کېږي، دا به په نړۍ کې تر ټولو لويه عرضه وي.
دا گام د سعودي د وليعهد محمد بن سلمان د اقتصادي پلان برخه دی.
سوداگريزې سرچينې وايي، سعودي تمه لري چې د دغې کمپنۍ يوه يا دوه سلنه برخه وپلوري.
له دې مخکې اول ځل چينايي شرکت علي بابا د نيويارک ونډو بازار کې په ۲۰۱۴ ز کال کې خپله ونډه وپلورله، چې ارزښت يې ۲۵ ميليارده ډالر و او له دې سره يې تاريخي ريکارډ جوړ کړ.
ارامکو د سعودي د تېلو ملي شرکت دی او د شمېرو له مخې يې تېر کال ۲۲۴ ميليارده ډالر عايد درلود.
په ۲۰۱۸ ز کال کې ارامکو هره ورځ ۱۳،٦ ميليون بيلره يا بېرله تېل توليد کړل، چې دا کچه د برېتانيا د «بي پي» او «رويال ډاچ شل» په څېر د تېلو د سترو شرکتونو له توليده ډېره ده.
سعودي په نړۍ کې د تېلو ستر صادروونکی هېواد دی، خو پر ارامکو له بريد وروسته يې نږدې ۵،۷ ميليون بيلره تېلي توليد کم شو. دا اندازه د نړۍ د تېلو بازار ته د ورځنيو وړاندې شويو تېلو له پنځه سلنې سره برابره ده.
له دې بريد وروسته د نړۍ له دريو سترو موسسو د فېچ په نوم باورسنجوونکې موسسې د سعودي د باور کچه يوه درجه ټيټه کړه.

**د ونډو په بازار کې ارامکو ولې مهم دی؟**

د ونډو بازار ته د سعودي د تېلو ملي شرکت د ونډې وړاندې کولو اصلي لامل ښايي د هغو هڅو برخه وي، چې له مخې يې سعودي غواړي پر تېلي عايد تکيه کمه کړي.
د سعودي وليعهد محمد بن سلمان هيله من دی چې د ۲۰۳۰ لرليد په نوم پلان به يې په راتلونکو لسو کلونو کې د خپل هېواد اقتصاد بدل کړي.
نږدې دوې مياشتې مخکې رياض دا هم وويل چې د ۴۹ هېوادونو لپاره د ويزې له لرې کولو سره بهرنيو گرځندويانو يا سيلانيانو ته خپل ور پرانيزي.
سعودي پلان لري چې تر ۲۰۳۰ ز کال پورې به په ملي ناخالص توليد کې د گرځندوی صنعت عايدو ونډه لس سلنې ته ورسوي.

**ارامکو څومره شتمني لري؟**

ارامکو په نړۍ کې د تېلو تر ټولو ستره کمپنۍ ده او بلومبرگ يې شتمني يا ارزښت ۱،۲ زيلين يا يو زر دوه سوه ميليارده ډالر اټکل کړې ده؛ خو د سعودي چارواکي دا شتمني دوه زره ميلياره ډالره بولي.
د دغه شک له امله د ونډو بازار ته د ارامکو وړاندې کول څو ځلې ځنډېدلي دي.
د سږ کال په لومړۍ نيمايي کې يې گټه ۴۷ ميلياره ډالره وه، خو په دغه مهال د اپل امريکايي شرکت گټه ۲۱ ميليارد او ٦۰۰ ميليون ډالره وه.
د اکسون موبيل په نوم د گاز او تېلو شرکت هم په دغه مهال ۵،۵ ميلياره ډالر گټه درلوده.
په وروستيو کلونو کې که څه هم د تېلو پر ځای د نوري انرژۍ سرچينې مخ پر وده دي، خو بيا هم تېل او گاز د دې ډگر اصلي لوبغاړي بلل کېږي.
په سعودي کې د تېلو د سپړلو يوه ښېگڼه دا ده چې د ځمکې سر ته نږدې دي او اسانه چاڼ کېږي.
په سعودي کې د ځينو تېلي زېرمو ايستل ارزانه هم دي. بيلر ته تر رسېدو مخکې ان ځينې تېل ورته له لس ډالرو په کمه بيه تمامېږي. خو په بازار کې اوس د هر بيلر تېلو بيه تر ٦۰ ډالر لوړه ده او همدا وجه ده چې ارامکو ډېره گټه کوي.

**ارامکو څنگه جوړ شو؟**

د سعودي او امريکا د تېلو کمپنۍ له تړون سره ارامکو جوړ شو. د ارامکو بنسټول هغه مهال پيل شول چې په ۱۹۳۳ ز کال کې سعودي له «سټنډرډ ايل کليفورنيا» شرکت سره تړون لاسليک کړ.
د عربي- امريکايي تېلو شرکت يا ارامکو په ۱۹۴۴ ز کال کې د «سټنډرډ ايل کليفورنيا-عربي» شرکت د نوم په بدلولو سره رامنځ ته شو. په ۱۹۷٦ ز کال کې سعودي د دې شرکت ټوله ونډه خپله کړه او نوم يې سعودي ارامکو کړ.
په ۱۹۸۸ ز کال کې د سعودي د تېلو شرکت جوړ شو او د ارامکو ټولې چارې او تاسيسات يې په خپل واک کې واخيستل.
د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ دوه کاله مخکې له سعودي وغوښتل چې د ارامکو ونډې د نيويارک ونډو بازار ته وړاندې کړي. هغه وويل، امريکا ته دا ډېره مهمه ده چې د ارامکو ونډې اول ځل په امريکا کې وړاندې يا عرضه شي او په دې کار سره به منندوی وي.
هغه مهال ويل کېدل چې ارامکو به په ۲۰۱۸ ز کال کې خپله ونډه وړاندې کړي، خو تر اوسه داسې ونه شول.

# پر کمېسیون نیوکې؛

## د ټاکنو کمېسیون له ولس سره ناسم معلومات شریکوي



د ټاکنو پر خپلواک کمېسيون له دې امله نيوکې دي چې گواکې له رسنيو سره ناسم معلومات شريکوي. د راپورونو له مخې، د ټاکنو کمېسيون بايد تېره ورځ په ولايتونو کې د ولسمشريزو ټاکنو د رايو بياشمېرنه پيل کړې وای، خو دغه کار يې نه دی کړی. د ټاکنو خپلواک کمېسيون هم ټينگار کړی و، چې په ۳۴ ولايتونو کې به د رايو بياشمېرنه پيلوي، خو له دې سره هم دا لړۍ پيل شوې نه ده. رسنۍ او د ټاکنيزو ټيمونو غړي د ټاکنو کمېسيون پر دې چارو نيوکه کوي او وايي، دوی ناسم معلومات له رسنيو سره شريکوي.
د ټاکنو خپلواک کمېسيون ويلي وو، چې د ټاکنو کمېسيون د مرکزي دفتر استازي به ۳۴ ولايتونو ته د رايو د بياشمېرنې په هدف سفر کوي او د هغو محلونو فهرست چې بياشمېرنې ته ځي، د دوشنبې ورځې تر پايه به اعلان شي. خو د تېرې ورځې تر پايه کمېسيون دا کار و نه کړ. د ټاکنو خپلواک کمېسيون غړي اورنگزېب د يکشنبې په ورځ ويلي وو، دارالانشا ورسره د هغو مرکزونو لېست شريکوي چې رايې يې بياشمېرنې ته ځي او د دوشنبې په ورځ به د دوی کارکوونکي ۳۴ ولايتونو ته د بياشمېرلو لپاره ځي؛ خو کمېسيون پر دغه ژمنه عمل نه دی کړی او د تېرې ورځې تر پايه دغه لېست نه دی خپور شوی.
د کمېسيون يوه وياند بيا ويلي، چې نن سه شنبه به د ټاکنو کمېسيون پلاوی ولايتونو ته سفر وکړي او تر هغه وروسته به د ناظرينو په حضور کې د په نښه شوو مرکزونو رايې له سره و شمېرل شي.
ذبيح الله سادات وايي: ((نن د کمېسيون پلاوی ولايتونو ته سفر کوي او تر هغه وروسته به تفتيش او د رايو بياشمېرنه د نوماندانو او څارونکو بنسټونو د ناظرينو په حضور کې پيل شي)).
بل خوا ټاکنيز ټيمونه بيا وايي چې دوی تر هغه پورې د رايې بياشمېرنه نه مني، چې د رايو سقف او کره شمېره نه وي معلومه شوې. د ثبات او همپالنې ټيم يوه غړي ويلي، کمېسيون بايد تر هر څه وړاندې د رايو شمېره معلومه کړي او تر هغه وروسته دې د رايو بياشمېرنه پيل کړي. بل خوا بيا د دولت ساز ټيم د کمېسيون پر مهالوېش ټينگار کوي.
د دغه ټيم د غړو په خبره، کمېسيون ته بايد اجازه ورکړل شي چې خپلې چارې له مهالوېش سره سمې مخ ته يوسي؛ ځکه په چارو کې ځنډ د ستونزو د زېږېدو لامل گرځي.
د ټاکنو کمېسيون هيله لري چې دوی وکړی شي په ټاکلې نېټه لومړنۍ پايلې اعلان کړي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون له رسنيو سره په خبرو کې ويلي وو، سره له دې چې درملوگ کمپنۍ په خپلو کارونو کې چټکه نه ده؛ خو بيا هم دوی هيله لري چې وکړی شي په ټاکلې نېټه لومړنۍ پايلې اعلان کړي.
ټاکل شوې وه چې د ټاکنو لومړنۍ پايلې په تله مياشت کې اعلان شي، خو په کمېسيون کې د نظر د اختلافونو او همدا راز په چارو کې د اړين چټکوالي د نشتوالي له امله، دغه پايلې د لړم مياشتې ته و ځنډېدې. ډېری څارونکي بنسټونه او ټاکنيز ټيمونه پر دغه ځنډ نيوکه کوي او وايي، کمېسيون اړ دی چې په دې نېټه لومړنۍ پايلې اعلان کړي او که په دويمه نېټه هم دوی د پايلو پر اعلان بريالي نه شي، نو چاره به يې هېڅ ډول توجيه ونه لري.

## د ايران پر کونسلگرۍ تر بريد وروسته؛

# ايران خپلو اتباعو ته خبرداری ورکړی چې کربلا ته له تلو ډډه وکړي



په عراق کې د لاريونونو له زياتېدو او په کربلا ښار کې د ايران پر کونسلگرۍ د لاريونوالو تر بريد وروسته، په دغه ښار کې د ايران کونسل مير مسعود حسينيان له ايرانيانو غوښتي چې د امنيت تر ښه کېدو پورې دغو سيمو ته لاړ نه شي.
په ورته وخت کې اسوشيټېډ پرېس خبري اژانس د عيني شاهدانو له خولې ويلي، چې لاريون کوونکو په کربلا کې د ايران د کونسلگرۍ بيرغ ښکته کړی او پر ځای يې د عراق بيرغ پورته کړی دی. خو په دغه ښار کې د ايران کونسل بيا ويلي، چې د کونسلگرۍ شاوخوا حالت عادي شوی دی.
په دغو لاريونونو کې د ايران ضد شعارونه هم ور کول کېږي او داسې رپوټونه هم خپاره شوي چې ايران ملاتړو ملېشو تېره پنجشنبې په کربلا کې پر لاريونوالو بريد کړی و.
بل خوا په خواله رسنيو کې خپاره شوي انځورونه او ويډيوگانې ښيي چې په کربلا کې ځينې لاريونوال د ايران د کونسلگرۍ پر دېوالونو اورلگوونکي بمونه ورغورځوي.
په ورته وخت کې ځينو ايراني رسنيو ويلي چې لاريون کوونکو څو شېبې کونسلگري کلابنده کړې وه.
په ټولنيزو رسنيو کې په خپرو شويو ويډيوگانو کې ښکاري چې د عراق امنيتي ځواکونه د ايران د کونسلگرۍ شاوخوا ولاړ دي. د ايراني رسنيو د راپورونو له مخې، د کربلا پوليسو اوسمهال په سيمه کې حالت کنټرول کړی دی. د يادونې ده چې د عراق په وروستيو لاريونونو کې د تاوتريخوالي له کبله ۲۵۰ کسان وژل شوي او په زرگونو نور ټپيان شوي.
دا په داسې حال کې ده چې د اکټوبر له لومړيو په لسگونو زره لاريون کوونکي د کاري دندو، مالي فساد د ختمېدو او ښو ټولنيزو خدمتونو لپاره د عراق په بېلابېلو ښارونو کې لارو او کوڅو ته راوتلي دي.
که څه هم حکومت د سمون راوستو او فساد د ختمولو ژمنه کړې، خو لاريون کوونکي چې د لومړي وزير گوښه کېدل غواړي، لا هم راضي نه دي.
تېره اونۍ د عراق ولسمشر برهم صالح وويل، که د عراق پارلمان د لومړي وزير پر ځايناستي سره جوړ شي، نو عادل عبدالمهدي به له واکه گوښه شي. خو ويل کېږي چې ايران د لومړي وزير عادل عبدالمهدي له استعفا سره مخالف دی.
په ورته وخت کې د امريکا او ملگرو ملتونو په گډون، ځينو غربي هېوادونو د عراق پر حکومت غږ کړی چې روان کړکېچ دې د خبرو له لارې حل کړي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق


◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

**شپږم څپرکی**

**پښتونخوا د ترهگرۍ په لومه کې**




پوځ هېڅوک هم نه خوشالول، ځان ته یې په دې پروسه کې ډېر دښمنان پیدا کړل. د بېلگې په توگه په سوات کې د طالبانو د یوه قوماندان کیسه لیکم:

((د ۲۰۰۴ز کال د اگسټ پر ۲۹مه، ISI په خپل کور کې ونیولم. دوه کلونه او درې میاشتې د هغوی په زندان کې بندي وم. د جهاد په تور یې نیولی وم. په دې هېواد کې هرې ناروا ته اجازه شته. دلته فساد او ناولیتوب ته اجازه شته، خو پر جهاد بندیز لگول شوی. په زندان کې پوه شوم چې حکومت له مجاهدینو سره څه ډول چلند کوي. په دې هم وپوهېدم، له هغو مجاهدینو سره چې د ISI لپاره یې کار کاوه، څه ډول چلند کېده. هغه مجاهدینو چې په کشمیر او افغانستان کې یې جهاد کاوه یو گام یې هم د هغوی له اجازې پرته نشو پورته کوی. کله چې زه او ملگري مې له زندان راووتو، موږ د ISI تر کنټرول لاندې جهاد پرېښود، د الله ج په لار کې مو خپلواک جهاد پیل کړ.))

پښتنو مشـرانو د پردې تر شا پر اسلاماباد فشار راوړی و چې له خپلو دې کارونو لاس واخلي. د ۲۰۰۹ز کال په جنوري، سوات کې د طالبانو د نفوذ له پراختیا سره، یوه پښتون مشـر سیاستوال افضل خان لالا د پاکستان د پوځ مشـر کیاني ته ویلي وو چې باید د طالبانو د ځپلو لپاره پرېکنده درېځ خپل کړي. د خان په وینا کیاني ته یې ویلي وو: ((سواتیان په دې باور دي چې پوځ او طالبان سره یو دي، تاسو باید پرېکنده درېځ خپل کړئ چې د عامو خلکو له نظریو دا ډول فکرونه وباسئ.))

د اسلاماباد دوه مخی سیاست نور د لوېدیځ له تگلارې جوړوونکو پټ نه و. افغان حکومت په وار وار ویلي وو چې تر ټولو لویه ستونزه په افغانستان کې د پاکستان لاسوهنه وه. واشنگټن امید لاره چې له ملگرتیا او مرستو سره به پوځ خپل لوری ته بدل کړي. له واشنگټن سره د پاکستان د ښو اړیکو پر مهال، په ۲۰۰۱ز کال د هند په ډهلي او په ۲۰۰۸ز کال په ممبیي کې بریدونه وشول چې په پایله کې یې د اسلاماباد او ډهلي اړیکې لا خرابې شوې. بیا هم د واشنگټن مهمو مشـرانو د اسلاماباد درېځ ستایه.

کله چې مې د ۲۰۰۹ز کال په اکتوبر کې د امریکا له مرستیال ولسمشـر جوبایډن وپوښتل چې د هرو نظامي عملیاتو په کېدو سره بیا هم حالات خراب شوي، بیا هم کوم پرمختگ لیدل کېږي کنه، د هغه ځواب د پاکستان د خوشالولو لپاره و: ((د پاکستان پوځ مناسب حرکت کوي، هغوی له سختو گواښونو سره مخ کېږي. زه مو د نظر پر خلاف یم. جهادیان او اسلامپال راډیکال غبرگونونه پوځ نه دي راپورته کړي، پوځ له پاکستاني طالبانو، حقاني شبکې او نورو سره په مناسبه توگه جگړه کوي.)) پاکستان وروسته دا درک کړه چې له پاکستان سره باید مخکې لاړ شي، ځکه اسلاماباد پر هغو ډلو چې په افغانستان کې یې جگړه کوله کنټرول لاره.

ډېری شنونکي پر دې باور وو چې د پاکستان دوه مخې لوبه نوره د پټېدو وړ نه وه، ځکه د ۲۰۱۱ز کال د مې پر ۲مه د پاکستان پلازمېنې ته نږدې، په ابېټ اباد کې د پوځ تر ټولو مهمې پوځي اکاډمۍ ته نږدې، د امریکا سمندري ځواکونو اسامه بن لادن وواژه. ISI مجبور شو ومني چې په خپله خاوره کې د نړۍ په تر ټولو لوی غوښتل شوي کس خبر نه وو. د پاکستان ملکي اداري هم له دې فرصت په استفادې د افراطیت پر وړاندې ټینگ درېځ خپل کړ. د پاکستان ولسمشـر اصف علي زرداري ډاډ څرگند کړ، ویې ویل: ((تر اوسه مو لا جگړه نه ده گټلې، خو د جگړې د پای ته رسېدو پیل په سترگو وینو، موږ په سویلي او مرکزي اسیا کې خپل راتلونکي ته هیله من یو.)) پر بن لادن له چاپې وروسته، د پوځ یوه پخواني جنرال او پیاوړي څېړونکي وویل چې پاکستاني جنرالانو ځای له لاسه ورکړی دی. نوموړي راته وویل: ((له دې پرته بله لاره نه ده پاتې، پوځ باید د یاغیانو له سازمانونو سره مخ شي، په شفاف ډول کار وکړي او د خلکو باور لاسته راوړي او یا هم له نورې نړۍ سره ملگرتیا وکړي. بله لاره نشته، خو پوځ دا لاره رد کړې ده.))

په ختیځ پنجاب ولایت کې پوځ هم د سیاستوالو تر نیوکو لاندې شو. د پوځ ډېری سرتېري او افسران د پنجاب له اتیا میلیون نفوس څخه دي. پخواني لومړي وزیر نواز شریف چې په ۱۹۹۹ز کال یې د پوځ د کودتا په ترځ کې حکومت له لاسه ورکړی و، دا مهال یې د پنجاب د سیاستوالو د دود پر خلاف د پوځ مخالفت وکړ. هغه د ۲۰۱۱ز کال په وینا کې وویل: ((دلته څه روان دي؟ پاکستان چا تر انارشۍ او گډوډۍ ورساوه؟ موږ پاکستان د قانون د پلي کېدو او اساسي قانون د لوړوالي لپاره جوړ کړ، د دې لپاره مو نه دی جوړ کړی چې هره ورځ زموږ ۱۸۰ میلیونه وگړي پر ټلویزیونونو د بدبختۍ صحنې وگوري.))

کله چې پوځ د امریکا په اداره کې ملاتړي له لاسه ورکړل، د امریکا په اداره کې د دوی پر وړاندې د ملاتړ پیدا کول لوی گواښ شو. د امریکا د پوځ یوه مهم قوماندان، اډمیرل مایکل مولن، مخکې تر دې چې له خپلې دندې لاړ شي، د ۲۰۱۱ز کال په سپټمبر کې سناتورانو ته په یوه مجلس کې وویل: ((د پاکستان حکومت په ځانگړې توگه پوځ او ISI په خپله تگلاره کې د افراطیانو ملاتړ ته د ځای ورکولو لپاره نه یوازې له امریکا سره خپلې ستراتیژیکې ملگرتیا ته زیان واړاوه بلکې د یوه سیمه ییز مشـروع او ځواکمن ملت کېدو فرصت یې هم له لاسه ورکړی دی.)) **دوام لري...**

# دوست محمد کامل

شفیق امیرزی



دوست محمد کامل د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال، شاعر او تر ټولو مهمه دا چې یو وتلی محقق و. هغه په داسې وخت کې په پښتو ژبه کې د څېړنو او تحقیقاتو وړ پرانیست، چې په دې ډگر کې هېڅ راز د پام وړ کار نه و شوی. مومند د خدای ورکړې پوهې پر مټ، پر دې بریالی شو چې په پښتو ژبه کې، د پښتو ژبې په پخوانیو متونو او نورو مهمو مسایلو کې د پام وړ تحقیقات وکړي. د پوهانو په باور، هغه د تحقیقاتو له نوو معیارونو سره بلد و، ځکه یې په پښتو کې ټول کړي تحقیقات له نړیوالو معیارونو سره برابر دي. د دوست کامل مومند نوم په کوزه پښتونخوا کې د هغه د سترو خدمتونو او دلته په بره پښتونخوا کې هم مشهوره دی او خلک درناوی ورته لري. هغه له ډېرې تنکۍ ځوانۍ پر لیکوالۍ او شاعرۍ پیل وکړ او د ژوند تر وروستۍ شېبې یې لیکل کول. د هغه د بریا یو راز دا و، چې پر څو نړیوالو ژبو پوهېدو او پر ځینو یې لیکل هم کولی شوای.

دوست محمد کامل د پښتو ادب د هغو څېړونکو په کتار کې دی، چې تر اوسه یې څېړنه د قدر وړ ده. پر خوشال خان خټک د هغه څېړنه د یوه معتبر سند درجه لري. پر خوشال سربېره یې د مغلو د دور پر تاریخ ژور تحقیقات او مطالعات کړي دي. د هغه څېړنه پر قوي او مستدللو بنسټونو ولاړه ده.

دوست محمد خان کامل د ۱۹۱۵ ز کال د ډسمبر په ۱٦مه د پېښور د قاضي خېلو په مالت کې زیږېدلی و. د هغه د پلار نوم فرجون خان و. پلرني نیکونه یې د نوښار تحصیل د ډاگۍ نومي کلي اوسېدونکي وو، خو د کامل پلار د خپلې دندې لپاره په پېښور کې مېشت شوی و. د ده مشران د بډه بېرې اوسېدونکي وو.

کامل لومړنۍ زده کړې په پېښور کې کړې وې. د مردان په عالي لیسه کې یې په ۱۹۳۲ز کال کې لسم ټولگی بشپړ کړ. بیا د پېښور په اسلامیه کالج کې شامل شو. د کالج پر مهال د خیبر مجلې مدیر هم و. د اسلامیه کالیج تر بشپړولو وروسته ایډورډز کالج ته لاړ. هلته یې په ۱۹۳٦ز کال کې خپل لیسانس واخیست. بیا یې په علیگړ پوهنتون کې ماسټري هم بشپړه کړه. هغه ته په هندوستان کې د دندې او کار تر سره کولو خوند نه ورکاوه. سره له دې چې تر فراغت وروسته د ښو دندو وړاندیز ورته وشو، خو په خپلو سیمو کې یې د وکالت دنده پیل کړه.

مخکې مو هم وویل چې تر دوست کامل مومند وړاندې په پښتو ادبیاتو او د پښتو متونو په تاریخ کې د څېړنو لړۍ او بهیر کمرنگه و. د دې لړۍ د پیل لپاره له سیالو ژبو سره د پښتو ژبې د مطالعې اړتیا وه او تر څنگ یې د څېړنې پر نړیوالو معیارونو د بلدتیا اړتیا هم لیدل کېده. دوست کامل مومند هغه کس و چې هم یې نورې ژبې زده وې او هم په نړۍ کې د هغه عصر پر ادبي چاپېریال له حاکم څېړنیز وضعیته خبر و. همدې مسایلو ته په پام یې په پښتو ژبه کې د څېړنو نوی وړ پرانیست. مومند په یوه علم پروره کورنۍ کې زیږېدلی و. نو ځکه یې د خپلې کورنۍ او زده کړو د چاپېریال تر اغېز لاندې، عربي، دري او اردو ژبه زده کړې وه. نوموړي د دې ژبو اثار لوستي وو او تر نظر یې تېرول. پوهنتون او ماسټرۍ د هغه نظر نور هم پراخ کړ. د غربي ژبو له اثارو سره بلد شو او په دې توگه په خپله ژبه کې نیمگړتیاوو ته متوجه شو. په نړیواله کچه یې د فلسفې او ادبیاتو مطالعې ته مخه کړه چې دې مسئلې یې فکر ژور کړ. تر همدې مسایلو وروسته یې قلم ته لاس کړ او د خپلې ژبې د بډاینې او تحقیق لپاره یې متې ونغاړلې.

د معلوماتو له مخې، کامل مومند په لومړي سر کې په فارسي او اردو کې شاعري پیل کړې ده. دا شاعري یې په (خمخانه یثرب) کې راټوله شوې ده. پر دغه کتاب له لیکل شوې مقدمې ښکاري چې کامل مومند له لسم ټولگي شاعري پیل کړې ده؛ خو د کامل له خپلو خطونو (خطوط کامل) څخه ښکاري چې هغه له شپږم ټولگي شعر او شاعري پیل کړې ده. دا د هغو خطونو ټولگه ده چې کامل مومند د خپل ژوند په اوږدو کې بېلو خلکو ته لیکلي دي. له ډېر ماشومتوبه یې خپل پلار ته لیکونه لېږل او همدا راز یې له ځینو ملگرو سره د خط په لېږلو اړیکه پالله.

په دې توگه نو ویلی شو چې له اووه یا اته کلنۍ مومند صیب پر لیک او لیکوالۍ پیل کړی دی او د ژوند تر وروستیو مرحلو یې دغه مسوولیت ادا کړی دی. نوموړي په خپلو څېړنو او لیکنو سره پر پښتو ادب مهمې پېرزوینې کړې دي، چې وروسته به بحث ورباندې وکړو. د هغه د لیکوالۍ لړۍ له شاعرۍ؛ نثر لیکنې، څېړنې، نقد، تاریخ، فلسفې، مذهبي مسایلو او سیاست ته غځېدلې ده. نوموړي په همدې څېړنو او لیکنو کې د پښتو ژبې ډېر تیاره اړخونه روښانه کړل او مهمې لاس ته راوړنې یې لرلې دي.

د کامل مومند لومړنی کار دا و، چې د پښتو ژبې د سترې هستۍ خوشال خټک په اړه یې په اردو ژبه د یوه مهم کتاب لیکل پیل کړل. دا کتاب په ۱۹٥۱ز کال کې چاپ شو. د دې کتاب تحقیق تر ۱۹٥۱ز کال مخکې پیل شوی و، خو په همدې کال کې چاپ شو. دا کتاب د هغه د ځوانۍ د وخت کارنامه ده، خو تر ده مخکې هېچا دومره باوري او مستند کار نه و کړی. تر دې دمه هم چا د خوشال په اړه دومره مهم او مستند اثر نه دی لیکلی. تر دې کتاب وروسته کامل مومند د خوشال پر کلیاتو کار پیل کړ. ده هڅه وکړه چې دغه کلیات راټول کړي او بیا یې چاپ کړي. نوموړي په دې کار کې زیار وگاله او د متن ټولونې له مېتودونو سره سم یې دغه اثار راټول کړل او د خوشال کلیات یې تړې برابر کړل. تر دې وروسته یې د خوشال بابا د عصر تر ټولو مهم تاریخي کتاب تاریخ مرصع تدوین کړ. دغه کتاب د خوشال خټک لمسي افضل خان خټک لیکلی دی چې د خټکو او د هغه وخت مهم تاریخي مسایل پکې راغلي دي. دوست کامل مومند دغه کتاب تدوین کړ، سریزه یې ورباندې ولیکله، حاشیې او لمن لیکونه یې ورکړل، د لغاتو ځانگړی فرهنگ یې ورته جوړ کړ او په اړینو ځایونو کې یې له معلوماتو ډک تفصیلات ولیکل.

له دې سره یې د خوشال بابا د یوه زوی سکندر خان خټک دیوان هم تدوین کړ. په اصل کې دوست کامل مومند یو پیاوړی خوشال پېژندونکی و او د هغه د کورنۍ د نورو غړو په اړه یې هم تحقیقات او لیکنې کولې. ده د خوشال اثار او لیکنې له خپلو تاریخي مطالعاتو او تجربې په استفادې تدوین کولې او سپړلې. نوموړي نه یوازې مهمې څېړنې وکړې؛ بلکې لکه مخکې مو چې هم یادونه وکړه د هغو کسانو لپاره یې وړ پرانیست چې د خوشال په اړه لیکنې کوي او د هغوی لپاره یې هم روښانه لار پرېښوده چې غواړي په پښتو ادبیاتو کې تحقیق او څېړنې وکړي. له همدې امله له ۱۹٦۰ز کال وروسته د خوشال او خوشال پېژندنې له ټولو اثارو سره د دوست کامل مومند نوم هم جوخت راځي. هغه نه یوازې د خوشال بابا؛ بلکې د رحمان بابا پر دیوان او کلام هم خبرې او بحثونه کړي دي.

د خوشال بابا د کلیاتو په اړه چې ښاغلي دوست مومند راټول کړي، استاد معصوم هوتک یې په اړه لیکي. دغه کلیات په ۱۹٥۲ز کال کې د استاد دوست محمد خان کامل په زیار، د پېښور د اداره اشاعت سرحد له خوا چاپ شوي دي. دویم چاپ یې په ۱۹٦۰ز کې خپور شوی دی. کلیات خوشال خان خټک درېیم وار هم چاپ شوی دی. د ده په خبره، کتاب په ښه توگه تنظیم شوی دی چې اوږده سریزه لري او په سریزه کې یې خورا مهم مسایل سپړل شوي دي. د کتاب سریزه ۴۸ مخه ده او ورپسې په لومړۍ برخه کې د خوشال غزلیات دي چې ۴۹٦ مخه کېږي. دویمه برخه یې قصیدې دي چې ۱۳۴ مخه کېږي او بیا ۱۸٦ مخه رباعیات دي. د کلیاتو په پای کې څلور مخه د خوشال بابا فارسي کلام راغلی دی. ټول کلیات په دې توگه ۹۸٦ مخه کېږي. په سریزه کې یې د خوشال خان خټک پر ژوندانه اوشاعرۍ محققانه خبرې کړې دي، چې دغه څېړنې بیا په را وروسته کې د نورو څېړونکو لپاره د خان پر ژوند د لیکنو لپاره پوخ اساس گرځېدلی دی.

د کامل مومند یو بل مهم کار دا و، چې د پښتو مهم اثار یې بهرنیانو ته په نورو ژبو ور معرفي کول. مخکې مو هم وویل چې ښاغلی مومند پر پښتو، فارسي او عربي ژبه پوهېدو، نو په همدې ژبو یې لیکل هم کولی شوای. نوموړي د خوشال بابا په اړه هم په انگلیسي یو کتاب لیکلی دی. ده غوښتل هغو مستشرقینو ته د مطالعې او تحقیق لار برابره کړي چې د پښتنو د اثارو په اړه مطالعې او تحقیق ته لېواله دي. دغه راز ویل کېږي چې ښاغلی مومند پر سانسکریټ ژبه پوهېده، نو په خپلو تحقیقاتو او سپړنو کې یې له دې ژبې کار اخیست. د تحقیق لپاره پراخه مطالعه ضرور ده. یوازې پر یوه مسلک پوهېدل له سړي یو پیاوړی محقق نه شي جوړولی، خو په هممهاله توگه پر تاریخ، سیاست، فلسفې او روان چاپېریال باخبري له یوه محقیق ربښتینی او پیاوړی محقق جوړوي. مومند همداسې ځانگړنې لرلې او له خپلو ټولو وړتیاوو یې د یوه ښه تحقیق او ښې څېړنې لپار کار اخیست.

کامل مومند د شاعرۍ، لیکوالۍ، ژباړې او تحقیق تر څنگ، د مسلکي نقد باب هم پرانیستی دی. هغه یو زړور او د پراخ نظر لرونکی نقاد و. نقد او تحقیق دواړه پراخې مطالعې ته اړتیا لري. د مومند او د هغه د همعصره ځینو نورو نقادانو ښه ځانگړنه دا وه چې دوی پراخه مطالعه لرله، ځکه یې ځینې اثار نقد کولی شوای. دوی نه یوازې دا چې د پښتو نقد یې له نوي فن سره بلد کړ؛ بلکې دا مسئله په پښتو ادب کې د پرمختگ او نوښت سبب هم شوه.

نو په دې توگه ویلی شو چې اروانباد دوست کامل مومند په پښتو ادب کې پراخ تحقیقات کړي دي. هغه نه یوازې تحقیقات کړي؛ بلکې په مستقیمه او غیر مستقیمه توگه یې د پښتو ادب لپاره پیاوړي شاگردان روزلي دي. د کامل مومند تحقیقات او اثار په پښتو ادب کې ځانگړی ځای لري چې تر ده وروسته د پښتو ادب نورو محقیقینو هم د ده لار خپله کړې ده او د پښتو ژبې او ادب تیاره گوټونه یې روښانه کړي دي.

د پښتو ادبیاتو او ژبې دا پیاوړی نقاد، شاعر، لیکوال، څېړونکی او خدمتگار تر کلونو خدمت وروسته، په ۱۹۸۱ز کال کې ناروغ شو. د همدې کال د فبرورۍ په ۲۳مه یې د ناروغۍ له امله په یوه روغتون کې سا ورکړه او د خپلې مور مزار ته څېرمه خاورو ته وسپارل شو. هغه د پښتو ادب لپاره بې مثاله خدمتونه کړي دي چې له همدې امله یې د پښتنو په فرهنگي حلقو کې قدر او درناوی کېږي. هر کال یې تلین نمانځل کېږي او په ویاړ یې علمي او تحقیقاتي سیمنارونه جوړېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۰ |
| € | ۸٦,۸۰ |
| Rp. | ٤۹٥ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د اقتصادي سیاستونو مفهوم او پېژندنه

**لیکنه: گلاب بهار – پنځمه برخه**

**دويم- سازماني سیاستونه**

سازماني سیاستونه هغو سیاستونو ته ویل کېږي چې د داسې اغېزو مدیریت وکړي، چې د انساني هڅو یا د پروسو پر مخ بیولو حمایت وکړي. کله چې د یو سازمان وگړي د داسې نتایجو د لاسته راوړلو په لټه کې وي، چې د سازمان له خوا نه وي تر سره شوي او یا د داسې نتایجو په لټه کې وي، چې د سازمان له خوا منل شوي وي، نو د لاسته راوړلو له لارې یې سازماني مشروعیت نه لري.

سازماني سیاست د یو سازمان د غړو هرو هغو کړو وړو ته ویل کېږي، چې په خپله د ده لخوا د خپل ځانگړي موقف د لوړولو په خاطر چې د سازمان د نورو وگړو گټو ته یې پام وي، تر سره کړي. دلته باید ووایو چې سیاست په تیاره یا ناڅرگندو موخو ټینگار کوي، کوم چې د رازونو د یوې مجموعې په توگه لیدل کېږي او د افرادو د ځانگړو او محدودو گټو د لاسته راوړلو په غرض کار ور څخه اخیستل کېږي.

**درېیم- زیربنایي سیاستونه**

په زیربنایي سیاستونو کې لاندې برخې شاملې دي:

الف- د مطالعاتي ظرفیت سیاست: د زیربنایي پروژو د مطالعې ظرفیت ته د سترو پروژو اداره وایي، چې د داسې ادارو مهمې دندې او ونډې دا دي، چې منظمې پروژې ترتیب او تیارې کړي او کله چې پیسې لاسته راشي، په فوري ډول دې تقسیم وشي، چې د لومړیتوبونو په رڼا کې کوم نظریات لومړی په عملي بڼه تر سره کېږي.

ب- ساختماني کوډونه او مقررات: زیربنا هغه مهال خاصه گټه لري، چې په دوامداره توگه پاتې شي او د دې لپاره لازمه ده، چې په یو هېواد کې منظم ساختماني کوډونه او مقررات موجود وي او عملي بڼه ولري.

ج- د مناقعو یا قرارداد اصول: د زیربنایي پروژو یوه مهمه برخه د مناقعو یا د قرارداد اصول دي، هغه دا چې زیاتره پروژې اوس د خصوصي سکټور له خوا اجرا کېږي، نو په همدې بنا دولت ته پکار دي چې د مناقعو داسې اصول وټاکي، چې د شرکتونو ترمنځ د رغنده سیالۍ لامل شي، په ښه کیفیت کار او په ټیټه بیه تر سره کړي، چې په عملي توگه په ډېرو هېوادونو کې د مناقعې اصول د کثافت او فساد سرچشمه وي او د شخصي گټو لپاره یې تر پښو لاندې کوي.

**څلورم- د نظامونو سیاستونه**

دلته باید ووایو چې اقتصادي نظام په خپله ځان د اقتصادي رونق لپاره ځانگړي سیاستونه لري او جوړوي یې چې مربوطه نظامونه د مربوطه هېواد لپاره د اقتصادي سیاستونو په پلي کولو سره هڅه کوي، چې د هېواد اقتصاد ښه شي.

**پنځم- ورځني او جاري سیاستونه**

د حکومت ورځني او جاري سیاستونه هغه اقتصادي سیاستونه دي، چې د ورځنیو چارو په نظر کې نیولو سره پلانیزه کېږي او تطبیق کېږي. لکه د بازار نوسانات، اقتصادي نوسانات، تورم او داسې نور...

**شپږم- مالي سیاستونه**

د اقتصادي موخو په پام کې نیولو سره د دولتونو له لوري د خپلو لگښتونو د بدلون سیاست او پالیسۍ ته مالي سیاست ویل کېږي. پر همدغه بنسټ ویلای شو چې مالي سیاست د یو دولت له لگښتونو او عوایدو سره سروکار لري، چې د نوموړي سیاست د ډېرو سیاستونو له مخې دولت خپل عواید زیاتوي او یا هم د ځینو ځانگړو موخو او اهدافو لپاره نوموړي لگښتونه کموي.

لکه څرنگه چې ښکاره خبره ده چې د دولت د عوایدو د زیاتېدو تر ټولو لویه منبع مالیات دي، چې همدغه د مالیاتو زیاتوالی په مالي سیاست کې د دولت د عوایدو د زیاتوالي په موخه کارول کېږي او د دولت او اقتصادي جریان ترمنځ دمعاملاتو د حجم د کنټرول په موخه هم مالي سیاستونه پر کار اچول کېږي. یا په بل عبارت سره ویلای شو چې د مطلوبو اقتصادي او اجتماعي اهدافو لاسته راوړلو په خاطر، د دولت په عوایدو او لگښتونو کې د تغیر یا بدلون راوړلو پروسې ته مالي سیاست ویل کېږي. یا هم ویلای شو چې مالي سیاست د عامه تمویل د بدلون (کموالي یا زیاتوالي) له پروسې څخه عبارت دی، څو په سوداگرۍ یا کاروبار کې د نوساناتو کچه راکمه کړي او له انفلاسیون څخه پرته کامل استخدام رامنځته شي.

مالي سیاستونه چې د عمومي سیاستونو یوه برخه ده، د یو هېواد د مقننې یا اجرایې قوې له خوا رییس جمهور ته وړاندې کېږي او کله چې د رییس جمهور له خوا تصویب شي، نو بیا نوموړی سیاست د یوې رسمي جریدې له خوا په رسمي ډول چاپ او خپرېږي. نو وروسته له رسمي خپرېدنې بیا دغه مالي سیاست گام پر گام عملي کېږي. مالي سیاست په ځانگړې توگه د حکومت مجموعي لگښت او ټوله مالیه په نظر کې نیسي، څو ملي اقتصاد ته غښتلې وده ورکړي او د عایداتو بودیجه زیاته شي. یا په بل عبارت، ملي لگښت کم کړي او د هېواد مالیه زیاته کړي. په یو هېواد کې د بودجې کسر یا کموالی هغه وخت رامنځته کېږي چې د حکومت ټول لگښت له خپلو کلنیو عایداتو څخه زیات وي او بودجوي ډېرښت هغه وخت منځته راځي چې د یو هېواد د یو کال لگښت د یوه کال له عایداتو څخه کم وي. پس د یو هېواد مرکزي حکومت باید همېشه هڅه وکړي چې خپل کلنی لگښت کم کړي او د خپلو عایداتو اندازه لوړه وساتي، څو د پیسو ارزښت یې ثابت پاتې شي.

د پیسو ارزښت څنگه معلومیږي؟ دا یو ډېر مغلق او پېچیده پوښتنه ده، چې د پیسو ارزښت په څه ډول معلومیږي، ځکه چې نوموړې موضوع د ملي اقتصاد تخنیکي او علمي عنوان یا بحث دی، چې په لاندې ډول ورباندې رڼا اچول کیږي:

ټول خلک په نړۍ کې د پیسو په واسطه هره ورځ تجارتي، مالي، اداري او دا شان نورې معاملې کوي. د بېلگې په ډول، یو هېواد له بل هېواد سره د پیسو په ذریعه واردات او صادرات کوي. پس مونږ څنگه کولای شو د خپلو پیسو ارزښت ثابت وساتو؟ مونږ باید څه وکړو چې نرخونه ټاکلي او منظم وساتو؟ هر یو ملک د خپلو پیسو لپاره ځانگړی نوم لري لکه افغانۍ، ایرو، ریال او ډالر، خو د پیسو نوم ارزښت نه لري، بلکې د پیسو ارزښت بیل شی دی. تقریباً هر یو شی په پیسو سره اندازه کېږي. د بېلگې په توگه، د یو تجار یا سرمایه دار شتمنې او جایداد ټول د پیسو په واحد اندازه کېږي یا معلومیږي. خو د پیسو ارزښت څنگه اندازه کړو؟

د پیسو ارزښت د اقتصاد په ځانگه او څېړنه کې خورا مهم رول لوبوي. د پیسو ارزښت مانا د توکو د رانیولو قوت دی چې د توکو په رانیولو کې څومره ظرفیت او طاقت لري. د بېلگې په ډول، که مونږ پر یو مقدار پیسو باندې زیات توکي رانیولای شو، نو ویلای شو چې د پیسو ارزښت مو لوړ دی او که په یوه اندازه پیسو لږ توکي رانیولی شو، نو ویلای شو د پیسو ارزښت مو ټیټ یا کمزوری دی. دلته ویلای شو چې د پیسو ارزښت یا قوت مستقیماً د توکو په رانیولو پورې تړاو لري. یا په بل ډول، کله چې عمومي نرخونه لوړېږي، نو د پیسو ارزښت ټیټیږي یا کمېږي او کله چې د توکو عمومي نرخونه کمېږي، نو د پیسو ارزښت زیاتیږي. نو د ریاضي له مخې ویلای شو چې د پیسو ارزښت او د عمومي نرخونو لیدل، معکوساً له یو بل سره متناسب دي.

---

## ولسي جرگه: ۹۱ کود ته یو میلیارد او ۷۲۰ میلیونه افغانۍ په غیر قانوني ډول لېږل شوې دي

د ولسي جرگې مالي او بودجوي کمېسیون ویلي، ولسمشر او اجرایه رییس ته په ځانگړې شوي ۹۱ کود کې د پیسو تر خلاصېدو وروسته، مالیې وزارت دغه کود ته یو میلیارد او ۷۲۰ میلیونه افغانۍ په خپلسري ډول اضافه کړې دي.

د مالیې سرپرست وزیر منلې چې له نورو ادرسونو یې ۹۱ کود ته پیسې ورلېږلې، خو په دې اړه یې وضاحت نه دی ورکړی.

د ۱۳۹۷ لمریز کال په اوږدو کې د ولسمشر محمد اشرف غني او اجرایه رییس عبدالله عبدالله لپاره د ۹۱ کود په چوکاټ کې یو میلیارد او ۳۰۰ میلیون افغانۍ د ملي بودجې په سند کې تصویب شوې دي.

خو ازادي راډیو ته رسېدلي معلومات ښیي چې له دې پیسو سربېره، نورې یو میلیارد او ۷۲۰ میلیونه افغانۍ هم د مالیې وزارت له خوا همدې کود ته استول شوې او لگول شوې دي.

د ولسي جرگې د مالي او بودجوي کمېسیون رییس محمد عظیم محسني ازادي راډیو ته ویلي، دا پیسې مالیې وزارت په خپلسري ډول د دولت له نورو کودونو د ولسمشر او اجرایه رییس په واک کې ورکړې دي.

هغه ویلي: «له ۹۱ کود څخه ولسمشر او اجرایه رییس گټه اخلي. دې پیسو ته یو میلیارد او ۷۲۰ میلیونه افغانۍ اضافه ورلېږل شوې، دا له قانون او د بودجې له اصولو خلاف عمل و چې د افغانستان په تاریخ کې نه دی شوی».

د قانون له مخې، ۹۱ کود یوازې د ولسمشر په واک کې ورکول کېږي چې له پیسو یې په بېړنیو حالاتو کې گټه واخلي.

مشرانو جرگې هم ویلي، دوی ته ور رسېدلي شکایتونه ښیي چې ولسمشر ته په ځانگړي شوي ۹۱ کود کې ټولې پیسې لگول شوې دي.

د دې جرگې د شکایتونو د اورېدو کمېسیون مشر زلمي زابلي ویلي، د مالیې سرپرست وزیر همایون قیومي ومنله چې له نورو دولتي کودونو یې د ولسمشر لپاره ځانگړې شوي کود کې پیسې زیاتې کړې، خو په دې اړه یې وضاحت ور نه کړ.

هغه زیاته کړې: «په ۹۱ کود کې پیسې له وړاندې خلاصې شوې دي، له نورو کودونو ورته د مالیې سرپرست وزیر پیسې ور لېږدولې دي. د مالیې سرپرست وزیر موږ ته ومنله چې پیسې موږ ورته لېږدولې، خو دا کود اوس یوازې په ولسمشر پورې اړه نه لري، بلکې اجرایه ریاست هم پکې شریک دی».

د مالیې سرپرست وزیر همایون قیومي وړمه ورځ د مشرانو جرگې د شکایتونو د اورېدو کمېسیون ته غوښتل شوی و، څو په دې وزارت کې د فساد د ادعاوو، د افغانستان امریکایي پوهنتون د ترون، د اروپایي ټولنې او انگلستان سفارت د دولتي ملکیتونو او پر یوه خصوصي پوهنتون د سیلو د یوې برخې پلورلو په اړه ځواب ووایي.

---

## جرمني: چمتو یو چې د افغان سولې په پرمختگ کې اړینې همکارۍ وکړو

جرمني یوځل بیا ویلي، د افغان سولې د پرمختگ لپاره هر ډول اړینې همکارۍ ته چمتو دی. له ارگه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د افغانستان او پاکستان لپاره د جرمني ځانگړي استازي مارکُس پوټزل کابل ته په سفر کې د افغان حکومت د سولې له نوي پلانه خپل ملاتړ هم څرگند کړی دی.

پوټزل چې پخوا یې له طالب استازو سره هم لیدلي، وړاندیز کړی چې هېواد یې د افغان سولې پروسې د پرمختگ لپاره هر ډول اړینې همکارۍ ته چمتو دی.

پوټزل له ولسمشر غني سره په لیدنه کې هیله ښودلې چې د افغان سولې لپاره به د جرمني هڅې د دې لامل شي چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې پیل شي. له ولسمشر غني سره د جرمني د ځانگړي استازي مارکُس پوټزل د لیدنې په اړه د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي خبریالانو ته ویلي: «د افغانستان له سولې د ملاتړ په برخه کې ولسمشر د جرمني هېواد رول وستایه، جرمني تل د افغانستان د سولې له پروسې ملاتړ کړی، په دوحه کې چې کوم ډیالوگ وشو او همدا راز په ټولو هغو پروسو کې چې موږ یې په مټ د سولې پروسه مخته وړې، هغوی (جرمني) د افغانستان د خلکو تر څنگ ولاړ وو او همکاري یې کړې ده». د افغانستان او پاکستان لپاره د جرمني ځانگړي استازي داسې وخت د سولې د پروسې په اړه له افغان چارواکو سره خبرې کړې، چې افغان حکومت په دې وروستیو کې د سولې لپاره یو نوی پلان اعلان کړی او وایي چې په همدې اساس به مخته ځي.

له طالبانو، امریکایانو او پاکستان سره د افغان حکومت مذاکرې، سیمه‌ییزه او نړیواله اجماع او د ښې حکومتولۍ اړوند کورني مسایل، د حکومت د سولې د نوي پلان درې مهمې مسئلې دي.

جرمني هغه مهال چې امریکا د افغان سولې لپاره د زلمي خلیلزاد په ټاکلو له طالبانو سره نږدې یو کال خبرې وکړې، په همدې موده کې د افغان سولې د پروسې لپاره ځینې هڅې هم کړې دي.

د روان کال په لومړیو کې مارکُس پوټزل په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر له مشرانو سره ولیدل او بیا یې په جولای میاشت کې د قطر په ملگرتیا، په دوحه کې یوه لویه بین‌الافغاني غونډه جوړه کړه. په ورته وخت کې جرمني د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت په چوکاټ کې افغان پوځیانو ته د روزنې او مشورې ماموریت هم مخته وړي او د افغان ملي پولیسو د روزنې په برخه کې له مخکښو هېوادونو یادېږي.

مسير ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



flydubai · TURKISH AIRLINES · Emirates · ARIANA

المبارک

توریستي شرکت

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!




0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



سه شنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۱٤مه | د ۲۰۱۹ د نومبر پنځمه | ٤٥٧ گڼه

www.Maseerdaily.af · twitter/MaseerDaily · Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ١٦ | ١٤ | ١٨ | ١٠ | ٢٤ | ٢٠ |
| ٥ | ١ | ٧ | ٢ | ١٢ | ٩ |

شرعي وختونه: سهار ٠٤:٥٢ | لمر ختل ٠٦:١٦ | ماسپښین ١١:٣٨ | مازیگر ٠٢:٣٦ | ماښام ٠٤:٥٨ | ماخوستن ٠٦:٢٣

## کمیسیون شکایات انتخابات آرای ۱۰۵ مرکز رایدهی را باطل اعلام کرده است

اسناد کمیسیون های انتخابات، نشان می دهد که آرای ۱۰۵ محل باطل، در۳۷۰ محل رای دهی، هیچ رای استعمال نشده و فورم نتایج ٦٤٣ محل دیگر، تاکنون به این کمیسیون نرسیده است.

سید قطب الدین رویدار کمیشنر کمیسیون شکایات انتخاباتی، از باطل اعلام کردن ۱۰۵ محل خبر داده و می گوید که این محلات، در پنج ولایت باطل گردیده اند.

وی به آژانس خبری پژواک گفته است که از مجموع محلات باطل شده، ۵۱ محل در ولایت فراه، ۱۷ در تخار، ۱۳ در کابل، ۱۳ در بغلان و ۱۱ محل دیگر در ولایت غور باطل گردیده اند.

این تصمیم کمیسیون شکایات انتخاباتی، بر اساس مواد ۳۰، ۸٦ و ۹۴ قانون انتخابات و لایحۀ رسیده گی به امور قرنطین، شمارش مجدد و ابطال آرا، گرفته شده است.

کمیسیون شکایات انتخاباتی می گوید که ممکن است به دلیل قضایای استیناف خواهی، در ارقام محلات باطل شده، تغییرات به وجود بیاید.

کمیسیون شکایات انتخاباتی می گوید که این کمیسیون، تصمیم تفتیش و بازشماری بیش از دو هزار و ۱۰۰ محل دیگر را روی دست گرفته است.

محمد قاسم الیاسی کمیشنر و سخنگوی کمیسیون شکایات انتخاباتی، گفته است: «در فهرست اول ۱۸۴۴ محل، نیازمند بازشماری بود؛ ولی پس از تکمیل فهرست ها، در کنار بازشماری، تفتیش هم اضافه شد و اکنون در ۲۳ ولایت، بیش از دو هزار و ۱۰۰ (محل) نیازمند تفتیش و بازشماری است».

الیاسی، با اشاره به گزارشات نشر شده در مورد آغاز بازشماری، افزوده است: «دو تن از اعضای ما به کمیسیون انتخابات رفته بود؛ تا گزارشات را برای ما بیاورد و به بعضی سوالات ما پاسخ داده شود؛ اما تاکنون جلسه دایر نشده است که همکاران ما در این خصوص معلومات بدهند؛ اما فکر نمی کنم که امروز بازشماری آغاز شود».

## نړۍ




## ملګري ملتونه: نږدې شل میلیونه یمنیان جدي روغتیایي خدمتونو ته اړتیا لري

د ملګرو ملتونو د کډوالۍ نړیوال سازمان ویلي چې دا مهال نږدې شل میلیونه یمني وګړي جدي روغتیایي خدمتونو ته اړتیا لري.

په یمن کې د کډوالۍ نړیوال سازمان دفتر په خپره شوې خبرپاڼه کې ویلي، چې دغه سازمان د جاپان او نورو نړیوالو مرستندویه بنسټونو په مرسته، تېره اونۍ ۲۴ زرو او پنځه سوو یمنیانو ته چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل دي، روغتیایي خدمتونه برابر کړي، خو خبرداری یې ورکړی چې د اړمنو کسانو کچه ډېره لوړه ده.


سرچینې زیاته کړې: « نږدې ۲۰ میلیونه یمنیان اوسمهال جدي روغتیایي خدمتونو ته اړتیا لري، موږ پر نورو نړیوالو مرستندویو هېوادونو او بنسټونو هم غږ کوو چې دې مسئلې ته جدي پاملرنه وکړي، که نه، ښايي په دغه هېواد کې بشري ناورین رامنځته شي».



دا په داسې حال کې ده چې په یمن کې د سعودي په مشرۍ د ائتلاف، د یمن د حکومت او حوثیانو ترمنځ په جګړو کې لسګونه روغتیایي مرکزونه له منځه تللي او پاتې نور مرکزونه هم د خلکو غوښتنو ته په سمه توګه رسېدنه نه شي کولای.

دغه سازمان یوځل بیا د جګړې پر ښکېلو غاړو غږ کړی، چې په جګړه کې د روغتیایي مرکزونو له په نښه کولو څخه ډډه وکړي.

## ګورباچوف: اټومي وسلو نړۍ له ستر ګواښ سره مخ کړې ده



د شوروي اتحاد پخواني ولسمشر میخایل ګورباچوف خبرداری ورکړی چې د اټومي وسلو ګواښ نړۍ له ستر خطر سره مخ کړې ده.

نوموړي د روسیې او لوېدیځ ترمنځ ترینګلتیا ته په اشارې ویلي، چې دوی نړۍ له ستر خطر سره مخ کړې ده.

ګورباچوف د بي بي سي له خبریال سټیف روزنبرګ سره د برلین دېوال د له منځه تللو د دېرشم کال په مناسبت خبرې کړې دي.

نوموړی ۸۸ کلن دی او په نړۍ کې د سړې جګړې د پای ته رسوونکي په نوم یادېږي.

د هغه یوه لویه لاسته راوړنه دا بلل کېږي چې د شوروي اتحاد او امریکا ترمنځ یې د وسلو سیالي پای ته ورسوله.

ګورباچوف زیاته کړې، تر هغه چې د عامه ویجاړۍ وسلې، اټومي وسلې وي، نړۍ ته ستر خطر متوجه دی.

تر دې وړاندې هم ګورباچوف په نړیوالو مسئلو کې مهم نظرونه ورکړي دي.

هغه په ۲۰۱۰ ز کال کې ناټو ته خبرداری ورکړی و چې په افغانستان کې پوځي بریا ناشونې ده.

ګورباچوف وړاندیز کړی و چې تر ټولو ښه لاسته راوړنه به دا وي، چې له دغه هېواد سره مرسته وشي چې له جګړې وروسته بېرته ورغېږي.

ده چې په لوېدیځ کې ځینې مشران یې د روغې پلوی بولي، په خپل هېواد کې د اقتصادي اصلاحاتو راوستو او له خپل بهرني سیاسته د تاوتریخوالي لرې کولو لپاره غوښتل له افغانستانه پوځونه وباسي.

## ژوند

## ته حرکت وکړه، خدای پاک برکت پکې اچوي





وايي چې څلور کسان د دښمن په سیمه کې په داسې حال کې روان وو، چې نه یې ډوډۍ درلوده، نه توکي او نه یې هم روغتیا د ډاډ وړ وه. داسې انګېرل کېده چې ان دوی د ژوندي پاتې کېدو چانس هم نه درلود. د دښمن د کېږدیو خواته ورغلل. دوی کولای شول چېرته ناهیلي کېني، خو دوی له خپلو شته امکاناتو ګټه واخیسته. کله چې کېږدیو ته نږدې کېدل، د پښو ټک ټوک یې دوه برابره ان څو برابره شو. شپه وه دښمن داسې فکر وکړ چې کوم لوی لښکر وربانديې د برید هوډ لري. دښمنان یې له خېمو وتښتېدل او ټول تجهیزات او خواړه یې د دوی لاس ته ورغلل.

اوس که له ځان سره وایې چې زه چنداني وړتیا نه لرم، سمه ده نه به یې لرې، د پښو ټک ټوک خو لرې، زموږ د کلي ښوونځی ودانۍ نه لري، سمه ده نه بې یې لري، دومره خو کولای شې چې په څېره کې د کارتنونو په فرش زده کوونکو ته ټولګي جوړ کړې. زه د یوه کاروبار لپاره ښه ودانۍ او دفتر نه لرم، سمه ده نه به یې لرې، اوس خو له همدې کوچنې دوکان څخه سمه ګټه واخله. که تاسې همدا اوس له هغه څه نه چې خدای پاک درکړي او په واک کې یې لرې، سالمه ګټه واخلې، خدای پاک به د هغه څو برابره درکړي.

## ډېر پروټین اخیستل هم د پښتورګو لپاره ښه نه دي

په لوړه کچه د حیواني پروټینو اخیستل په وینه کې د اسیدو د زیاتوالي لامل کېږي، چې دغه څه پښتورګو ته زیان رسوي او د اسیدوز حالت رامنځته کوي. په دې وخت کې پښتورګي نه شي کولی چې اسید په چټکۍ سره له منځه یوسي او بالاخره له فشار سره مخ کېږي.

دا سمه ده چې په خوړو کې د پروټینو شتون د بدن د دفاعي ځواک لپاره اړین دی، خو په هر څه کې باید انډول په پام کې ونیول شي. دغه راز پرته له سرې غوښې په مېوو او سبزیو کې هم پروټین موندل کېږي. د شپې له خوا په ښه ډول استراحت کول د ټول بدن د روغتیا او په تېره بیا د پښتورګو د روغتیا لپاره اړین دي. د خوب پر مهال پښتورګي خپل فعالیتونه تنظیموي او د نورو ۲۴ ساعتونو د فعالیت لپاره تیاری نیسي. ډېر کېناستل د پښتورګو له ناروغۍ سره مستقیمه اړیکه



لري. څېړونکو تر اوسه دا نه ده ثابته کړې چې ولې د ډېر وخت لپاره ځای پر ځای کېناستل د پښتورګو ناروغي پیدا کوي، خو دا بیا ثابته شوې ده چې فزیکي کړنې د ګلوکوزو سوځېدو ته لار هواروي او دغه څه د پښتورګو پر روغتیا مثبت اغېز کوي.